# د باچا خان خبرې
# د کاڼي کرښې

ابراهیم دېولی

"بېدار او پوهه قامونه خپل اتلان نهٔ هېروي"
(برازیلین ډاکټر)

غالباً د ۱۹۸۲ خبره ده جهاز د Baltimore USA ښار نه برازیل ته و رسېدو. زهٔ د علاج په غرض د کمپنۍ ډاکټر ته لاړم- د مرض کتنې په وخت زما ټوله توجه او نظر د ډاکټر مخې ته په مېز پروت کتاب اړخ ته مرکوز شوه چې په هغې د دوه قد اور شخصیاتو تصویرونه وو. د بدني ناروغتیا دپاره د دوایۍ تجویز کولو نه وروستو ډاکټر زما ذهني ټستې اخستلو په خاطر څهٔ دا رنګې ګویا شو:

تهٔ دا دواړه شخصیات پېژنې؟ د پېژندګلو باوجود ما د هغوي په باره کښې د ډاکټر موصوف د رائې او تجزیې اورېدلو په خاطر په نا کښې سر وخوزولو او ورته مې ووې، بخښنه غواړم زهٔ د دوي په حقله هېڅ معلومات نهٔ لرم.

زما په دارنګې بې علمۍ ډاکټر یو ځل بیا ګوته په خلهٔ شو او وې وئیل ته واقعې پاکستانے ئې او دوي نهٔ پېژنې؟ ما یو ځل بیا په Sorry کښې جواب ورکړو نو برازیلین ډاکټر څهٔ دارنګې ماته مخاطب شو.

"مسټر پاکستاني! بېدار او پوهه قامونه چرې هم خپل اتلان نهٔ هېروي- ما ته ډېر افسوس دے چې تهٔ د یو پاکستاني په حېث کم ازکم خپل قامي مشر هم نهٔ پېژنې- دا یو تصویر د مهاتماګاندي او بل د خان عبدالغفار خان (باچا خان) دے. چا چې د برصغیر هندوپاک نه د پېرنګي د ویستلو او ازادۍ ترلاسه کولو په خاطر تاریخي قربانۍ ورکړې دي او نن د دوي د قربانو په برکت د دنیا په نقشه کښې هندوستان او پاکستان خپله پېژندګلو لري او دا دواړه هستۍ صرف د هندوستان او پاکستان دپاره نهٔ بلکې د افغانستان، افریقې او نورو ملکونو او ازادۍ مئینو قامونو دپاره هم ډېرې د احترام وړ دي".

د نومړي ډاکټر د نصیحت آموز تعریفي کلماتو نه پس زهٔ په خندا شوم او د خپل جېب نه مې د ولي خان بابا سره پېوست خپل تصویري کارډ ډاکټر صېب ته په مېز کېښودلو. ډاکټر صېب کارډ سترګو ته نزدې کړو او وې وئیل چې دا خو ولي خان دے. او ماته بیا ګویا شو چې تهٔ باچا خان ولې نهٔ پېژنې؟ ما ورته خپله مدعا بیان کړه چې ما مهاتما ګاندي او باچا خان دواړه پېژندل خو ما د دوي په حقله ستاسو خیالات اورېدل غوښتل او ستاسو د خیالاتو په اورېدلو زما زړهٔ ته ډېر سکون او خوشحالي ورسېده. زما په دې جملو او کارډ ډاکټر صېب انتهائي خوشحاله شو او زما سره ئې ډېر په ګرمجوشۍ او مینه لاس ملاؤ کړل او بیا څهٔ دا رنګې ګویا شو چې " د باچا خان او مهاتما ګاندي منفرد خاصیت دا دے چې دوي د ټوپک او د تشدد په زور نهٔ بلکې د پرامن جدوجهد (عدم تشدد) په ذریعه د خپلې خاورې نه غاصب پېرنګے زغلولے

دے او د دوي لويه وسله او طاقت د عدم تشدد فلسفه وه".

ماته چې کله هم په موجوده حالاتو کښې د برازيلين ډاکټر هغه خبرې رايادې شي او په مختلفو تاريخي لويو وړو واقعاتو نظر واچوم نو د يو معمولي غوندې ليکونکي په حېث په دې وئيلو او ليکلو مجبوره شم چې واقعي باچا خان يو فولادي انسان ؤ. د ډېرو لوړو اصولو خاوند ؤ، هره خبره ئې د کاڼي کرښه وه د وخت بې رحمه چپو د هغۀ په ارادو، او فلسفه کښې هېڅ بدلون نۀ شو راوستلے. د انتهائي سياسي، نظرياتي مخالف قوت مقابله ئې هم ډېره په استقامت کړې وه، چرې هم په اشتعال کښې نۀ ؤ راغلے چې ثبوت ئې دا دے.

ا- د انګرېزانو د دور ظلمونه په خپل ځائے، خو د بابړې واقعه ډېره مشهوره ده چې په سوونو خدائي خدمتګاران پکښې شهيدان شول. قرآنونه په سرونو خوېندې مېندې معاف نۀ شوې، بوډاګان سپين ږيري، د ګلونو په شان ماشومان، د مېندو په سينو پورې په ګولو چاڼ چاڼ شول خو سلام پېش کوم د باچاخان عظمت ته چې د عدم تشدد فلسفه ئې پرې نۀ ښودله او د ظلم جواب له ئې د ظلم لار خپله نۀ کړه. دغسې د قصه خوانۍ او ټکر خونړۍ پېښو هم د خدائي خدمتګارو په هغه حلف نامه هېڅ منفي اثر وانۀ چولو چې خپله وينه به مو توئېږي خو د بل وينه به نۀ تويوو، خپله به ظلم برداشت کوو خو په بل به ظلم نۀ کوو، په خپله به وهل ټکول خورو خو په بل به ګوزار نۀ کوو. د باچا خان لويه خوبي دا وه چې څۀ به ئې وئيل په هغې به ئې عمل کولو او هم دغه وجه وه چې ټول خدائي خدمتګاران د باچا خان غوندې عملي خلق وو.

هم دغسې ولي خان بابا د عدم تشدد د فلسفې او سياسي استقامت په حواله د فخر افغان باچا خان بابا په قدم خپل قدم ايښے ؤ. خبره به ئې سپينه، په سپينه پښتو او په ډانګ پئيلي کوله خو په سياست کښې د انتقام اخستلو، اشتعال کښې راتللو يا ملګري په اشتعال کښې راوستلو او خون خرابې هرګز قائل نۀ ؤ چې د هغې لوئے ثبوتونه دا دي.

الف: ولي خان د دير نه په جلوس کښې راتلو په سوات قمبر کښې په جلوس ډزې وشوې څۀ کسان مړۀ څۀ زخمي شول. د جلوس ملګرو د کلو سوزولو خواهش ظاهر کړو، لېکن خان بابا ووئيل چې هر څوک به خپل خپل کارکوي، ډاکوان به ډاکې او قاتلان به خلق وژني، مونږ سياست کوو او دغسې د جلوس مشتعل خلق ئې قابوکړل او خپل منزل طرف ته روان شول.

ب- د ګورنر مصطفٰي کهر په دور حکومت کښې لياقت باغ راولپنډۍ کښې د حزب اختلاف په جلسه فائرنګ وشو، د ټولو صوبو او پارټو خلق پکښې شريک وو، ډېر خلق شهيدان او زخميان شول، د پښتنو شهيدانو او زخميانو په حواله ولي خان بابا هدايات جاري کړل چې مړي به د شپې يوسئ هسې نه چې پښتانۀ په اشتعال کښې راشي او نوره خون خرابه وشي او يا صوبائي، قامي نفرتونو ته دوام ملاؤ شي.

د باچا خان او ولي خان بابا په سياست کښې منفرد خاصيت دا ؤ چې د ذات او خاندان ترحده ئې سختي، تکليفونه، جېلونه برداشت کړي دي، جائدادونه ئې ضبط کړے شوي دي، د باچا خان بابا پُښتۍ ماتې کړے شوې دي خو نۀ ئې ملګرو ته د ټوپک راخستلو ترغيب ورکړے دے او نۀ ئې د خپلې پښتنو اقدارو او عدم تشدد فلسفې سره بې

وفـائي کـړې ده چـې د کـومې فلسـفې د لارې ئـې پېرنګي غونډې ظالم، جابر او غاصب قوت ته ماتې ورکړې وه.

باچا خان صرف سياسي او سماجي شخصيت نۀ بلکې عالم با عمله انسان هم ؤ چې ځۀ به ئې وئيل هغـه بـه ئې کـول هـم او ځکـه ورتـه علمـاء ديوبنـد د رئيس الاحرار خطاب ورکړے ؤ.

د موجوده حالاتو په رڼا کښې د دې دومره اوږد تمهيد نه زما مقصد دا دے او بذات خود د دې ذهن مالک يم چې نن نړۍ تـه د دهشـت ګردۍ پـه نـوم يـا انتهـا پسـندۍ او مـذهب پـه نـوم کـوم مشـکلات او کشالې ورپېښې دي او بيا دهشت ګردي چې د نورې دنيـا درد سـر ؤ، لـېکن د سـامراجي او اسـتعماري قوتونو د سازشونو او ځۀ د خپلو عزيزانو د عاقبت نااندېشۍ له کبله د دهشت ګردۍ پـه نـوم پاکسـتان عمومـاً او د پښـتنو خـاوره خصوصـاً داسـې مېـدان جنـګ وګرځـولې شـوه چـې کـۀ د امريکـې د ډرون بمبارۍ وي، کۀ مارټر ګوله وي او کۀ د کلاشنکوف ګولۍ وي دا ټولې ګولۍ د هر طرف نه د پښتنو په خاوره د پښتنو په سينو کښې پېوستېږي او سرېږي چې په نتيجه کښې ئې په لکونو پښتانۀ در په در خـاورې پـه سـر، مېنـدې خوبنـدې سرتورې، شـتمن خلـق خـوار و زار د غېـر مسـلمو او غېـرو قـامونو خېرات ته سترګې پـه لار، خېرات غوښـتونکي جوړ شول. خو تراوسه نۀ د دښمنانو زړونه يخ شول او نۀ خپلو عزيزانو لـه عقل راغلو چې دا هر ځۀ د چا پـه ګټه تمامېږي؟

پـه مـا پسـې د هـائي سـکول دبـولۍ ځينـې اسـتاذان راغلـل چـې اې ايـن پـي حکومـت زمـونږ معـروف مـاهر تعليم سلطان محمود پرنسـپل ابېټ اباد ته بدل کړو، ډېر ظلم وشو کۀ تۀ ځۀ کولے شې، ما ورته ووې چې زمونږ حکومت کم از کم دا فېصله ډېره په وخت او سل فيصده سمه کړې ده، ځکه چې کومه ټولنه کښې مولانا حسن جان غونډې عالم دين شهيدولے شي چرته چې په افضل خان لالا غونډې سياسي، مشر او قام مئين بشير احمد بلور غونډې مشـرانو قاتلانـه حملـې کـولې شـي، چـې پـه کومـه معاشره کښـې سـکولونه، کالجونـه، هسـپتالونه پـه بارودو الوځولے شي، چرته چې د خدائے په کورونو جماتونو مدرسو کښې ځان مرګي بريدونو کښـې پـه عبادت مشغول بې ګناه انسانان د خدائے بندګان، د پېغمبر امتيان بوډاګان، ځوانان، ماشومان شهيدان کېدلے شـي پـه داسـې معاشره کښـې بـه دغـه مـاهر تعليم چاته چرته او څنګه تعليم ورکړے شي؟ کم از کم ابېټ اباد کښـې بـه خپلـه وظيفـه ترسـره کړي او هاغـه پـه علـم، تعلـيم مئـين خلـق بـه تـرې استفاده ترلاسه کړي او بيا د ټولو نه عجيب منطق دا چې دا هر ځۀ مونږ د اسلام دشمن او ملک دشمن قوتونو د خفه کولو دپاره کوو. واه واه څومره د عقل سليم خبره ده، اپني پاؤن پر کلهاړي او دښمن خفه کوم- خپل ورور وژنم چې امريکه خفه شي.

او بلـه لويـه بدقسـمتي دا چـې هـره ډلـه پـه الېکشـن کښـې د تېرو حکمرانـانو د امريکـي نـواز پاليسۍ د مخالفت په بنياد اقتدار ترلاسـه کړي نو پـه دغـه حوالـه د Do More & Take Dollar پـه تابعدارۍ کښې هغه تېر قوتونه ډېر وروستو پرېږدي او خپل ځان امريکې ته د ټولو نه زيات وفادار يعنې Most Obedient ثابتولو کوشش کوي.

پـه دې حوالـه زۀ صـرف او صـرف د باچـا خـان د فلسفې قائل يم او د دې ذهن مالک يم چې د نړۍ د روانو حالاتو په حواله په دنيا کښې د امـن راوسـتلو دپـاره دوه فکرونـه او لارې دي. يـوه لار د طاقـت د اسـتعمال ده او بلـه لار د باچـا خـان د عـدم تشـدد د فلسفې لار ده.